Afghanistan Public Policy Research Organization (APPRO)
Street 2, South of Habibia High School
Ayub Khan Mina, Darul Aman Road, District 7
Kabul, Afghanistan

APPRO-Europe
Herzieningslaan 39
Anderlecht 1070
Belgium

د افغانستان دعامه څېړنو موسسه په افغانستان کی له اساسی حقونوڅارنې پروژه پرانیزی

د افغانستان دعامه څېړنو موسسه په افغانستان کی له اساسی حقونوڅارنې پروژه (ARM) یی د یکشنبې په ورځ د ۲۰۱۶ کال د جون په ۵ نیټه په کابل کی دهلند شاهی سفارت کی په لاره واچوله. د افغانستان د ۱۰ ولایتونو څخه ددی پروژی د لمړنیو مهم او اړینی موندنی د افغانستان دمدنی ټولنو، دولتی ارګانونو او بین المللی موسسو ِغړیو ته وړاندی شول.

دا غونډه د یوه ګردی میز په شمول هم وه چی په کی د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواک ریاست (IDLG)، د اصلاحاتو او بنې حکومتداری د ولسمشر د ځانګړي استازي او کوردیت استازو ګډون درلود.

د افغانستان دعامه څېړنو د موسسې رئیس ډاکتر سعید پرتو د دی غونډی په جریان کی وویل:
«په اساسی حقونو کې د موندنو ساتنه یوی اوږمهاله ځارنې او بدلونونو ځواب ورکولو ته اړتیا لری. له اساسی حقونوڅارنې پروژه مور ته اجازه راکوی ترڅو خپلی ګوتی د ټولنیز او اقتصادی بدلون په نبض چی په افغانستان کی داساسی حقونو بنسټ جوړوی، کشیژدو.»

دا لومړنی موندنی په افغانستان کی د اساسی حقونو ځارنې پروژې پایل دی، دا ځارنیزه پروژه د آګاهانه تګلاری نه د ساتنې او همدارنګه د مدنی، ټولنیزو او اقتصادی اساسی حقونو نه د ساتنې او لوړتیا دکارونکو موندنو له لاری، دظرفیتونو لوړتیا، او جوړونکی عدالت ِغوښتنې په موخه ډیزاین شوی ده.

نظارت په کال کی دری ځلی د پام وړ بدلونونو د رپوټ ورکولو لپاره په مقدماتی شرایطو کی او د مدني ټولنې څخه د عدالت غوښتنې له لارې ممکنه ځوابونه او د دولتي ادارو ځواب ویونکو کړنو په موخه به په منظمه توګه ترسره شي.

په افغانستان کی داساسی حقونوڅارنې پروژه له افغانستان سره سازګاره او د اساسی حقونو له ستندردو جامع ارزونی بر بنسټ ده. دا پروژه یو جوړښت د ستندردو څېړنو او روزنی طریقه د مدنی ټولنو او دولتی افرادو د دخیلولو لپاره د افغانانو داساسی حقونو د لوړتیا او ساتنې لپاره د غوره تګلاری د موندلو په موخه منځته راغلی دیر ددی پروژی بل مهم بخش په کابل کې د افغانستان د عامه څېړنو د موسسې په وسیله د پالیسی تجزیه او تحلیل په اړه حرفه یي زده کړی دی چې په بلژیک کی د ګینټ د پوهنتون لخوا تایید شوی دی. دغه روزنیزه دوره دمدنی ټولنی د واجد شرایطو کاندیدانو لپاره تهیه شوی ده.

د لا ډیرو معلوماتو لپاره لطفا له لوسیل مارتین، د اړیکو اومالی مرستو له مدیر سره دلاندی ایمیل ادرس له لاری په تماس کی شی. lucile.martin@appro.org.af

همدارنګه کولای شی د لا ډیرو معلوماتو لپاره له لاندی ویب سایټونو څخه لیدنه وکړی:
; www.appro-europe.net ; www.nac-pp.netwww.appro.org.af

د افغانستان د عامه څېړنو د موسسې په اړه (APPRO)
د افغانستان د عامه څېړنو موسسه د ټولنیزو څېړنو یوه خپلواکه اداره ده، چې د سیاسي او ټولنیزو روزنو د ودې او په افغانستان او نورو لږ پرمختللیو هیوادونو کې د پراختیا او بیا رغونې سره دمرستې په موخه فعالیتونه کوی. د افغانستان دعامه څېړنو موسسه دټولنیزو علومو په ساحه کې څېړنې، ځارنې او ارزونې، ښوونې او مشوره ورکونې په برخه کې فعالیتونه ترسره کوی. د افغانستان دعامه څېړنو دموسسې مرکزی دفتر په کابل کی دی او همدارنګه یوه نمایندګی په اروپا کې لری.